# د کونړ د پښتنو ځينې لهجوي ځانګړنې

# Some of the Dialectical' Characteristics of Kunar's Pashtuns

**Wajihullha Shpoon**★

**ABSTRACT**

The phonetic, grammatical and in terms of meaning, speech of a specific area and location is differ with other area and literature or with standard and national language, that is called the dialect.

Most of the world languages have the same big and small dialects, the research of these dialects have different advantages like: knowing the historical linguistic, sociological studies, understanding the culture, habits and it help in knowing the different level of societies. In consideration of these subjects, this article describe, collect and research some of the Kunar Pashtun dialects' characteristics, this will use in the linguistics studies and other related field.

**Key Words:** Dialect, standard language, Kunar, Pashtuns, Dialectical Characteristics.

لنډيز: د يوې ټاکلې سيمې او محل د خلقو الفاظ چې له فونتيکي، ګرامري او لغوي پلوه له نورو سيمو، محلاتو او ادبي يا معياري او ملي ژبې سره توپير ولري، لهجه ورته وئيل کېږي. د نړۍ اکثره ژبې دغسې لويې او وړې لهجې لري. د لهجو څېړنه ډېرې او بېلابېلې ګټې او موخې لري لکه؛ د تاريخي ژبپوهنې او ټولنپوهنې په مطالعاتو، د فرهنګ، دودونو او د ټولنې د مختلفو طبقو په پېژندلو او داسې نورو مسائيلو او مباحثو کښې مرسته کوي. همدې موضوعاتو ته په کتنه او پاملرنه، په دې ليکنه کښې د کونړ د پښتنو ځينې لهجوي ځانګړنې راټولې شوې دي، څېړل شوې او په ګوته شوې دي چې په ژبنيو مطالعاتو او نورو مواردو کښې د اړتيا پر مهال ورڅخه استفاده وشي.

کليدي کلمې: لهجه، معياري ژبه، کونړ، پښتانه، لهجوي ځانګړنې.

**سريزه:** پښتو هم د يوې ژبې په حيث څو لهجې لري او هره لهجه خپل ويونکي لري چې په دغو لهجو کښې بيا د ځينو سيمو خلق په خپلو لهجو کښې ځينې خاصې ځانګړنې لري او دا

---

★ Assistant Professor, Academy of Sciences Kabul, Afghanistan

ځانګړنې هغه ډله ییز یا فردي توپیرونه دي چې د وګړیو تر مېنځ او د ډېرو نږدې پرتو کلیو د اوسېدونکو په خبرو او ګړېدو کښې محسوس او اورېدل کېږي. دغه لهجوي ځانګړنې د ټاکلو سیمو د اوسیدونکو په پېژندنه کښې لوے نقش لري. له ډېرې مودې راهسې متوجه ؤم چې د کونړ د پښتنو په خبرو او وینا کښې به مې داسې لهجوي ځانګړنې اورېدلې چې د کونړ ولایت له محدودې څخه دباندې څۀ چې د کونړ د نورو سیمو د خلقو په خبرو کښې به نۀ محسوسېدلې، نو د یو کونړي په توګه مې غوښتل چې دغه لهجوي ځانګړنې وخت نا وختنه له ځان سره یادداشت کړم، لیکنه او څېړنه ورباندې وکړم. په دې څېړنه کښې هره لهجوي ځانګړنه د پښتو پر مروج لیکدود سربېره، په ټرانسکریپشن بڼه هم لیکل شوې او د وضاحت لپاره په یوه جمله کښې هم راوړل شوې او د ویونکو سیمه ئې هم په ګوته شوې ده. البته دا خبره باید وکړم چې کومې لهجوي ځانګړنې چې ما راټولې کړې دي او بیا مې تشریح، تحلیل او څېړلې دي، جامع او کاملې نۀ دي، کېدے شي په راتلونکې کښې دا لړۍ نوره هم پسې وغځېږي او نور څېړونکي هم دې کار ته دوام ورکړي.

د څېړنې اهمیت او ارزښت: په ټوله کښې د پښتو ژبې د لهجو پر راټولولو، ویشلو او څېړلو باندې ځومره چې پکار دي، څېړنیزکار کم شوي دي. که څۀ هم له نېکمرغه د علومو اکاډمې د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انسټیټوټ د علمي غړو په هڅو له ۱۳۹۰ش. کال راهسې تر اوسه پورې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کښې له بېلابېلو پښتني قبیلو څخه لهجوي مواد راټول شوي او د (پښتو لهجوي قاموس) تر سرلیک لاندې په اتۀ ټوکه کښې خوندي شوي دي چې د دې قاموس په لومړي ټوک کښې د کونړ د یو شمېر پښتني قبیلو لهجوي مواد هم راټول شوي، ثبت او ضبط دي[1]چې دا په خپل ذات کښې یو نوے کار وۀ، خو په دې برخه کښې نورو څېړنو ته هم اړتیا ده. بله دا چې مخکښې هم یادونه وشوه چې د لهجو څېړل د تاریخي ژبپوهنې او ټولنپوهنې په مطالعاتو، د فرهنګ، دودونو او د ټولنې د مختلفو طبقو په پېژندلو او داسې نورو مسائیلو او مباحثو کښې مرسته کوي. دا او داسې نور دلائیل د دې څېړنې اهمیت او اړینتیا په ډاګه کوي.

د څېړنې موخه: د دې څېړنې موخه دا ده چې د کونړ د پښتنو لهجوي ځانګړنې خلقو ته په ډاګه شي او له دغو لهجوي ځانګړنو څخه په نورو لهجوي څېړنو، د تاریخي ژبپوهنې او

ټولنپوهنې په مطالعاتو، د دغې سیمې د خلقو په پېژندلو او داسې نورو مسائیلو کښې ترې استفاده وشي.

د څېړنې پوښتنې: په دې څېړنه کښې لاندې پوښتنې تر ډېره بریده ځواب شوي دي:

- ✓ معیاري ژبه کومې ژبې ته وئیل کېږي؟
- ✓ لهجه څۀ ته وائي؟
- ✓ د معیاري یا ادبي ژبې او لهجې ترمېنځ توپیرونه کوم دي؟
- ✓ د کونړ د پښتنو لهجوي ځانګړنې کومې دي؟
- ✓ دغه لهجوي ځانګړنې د کونړ په کومو کومو سیمو کښې دي؟

د څېړنې میتوډ: د دې څېړنې میتوډ تشریحي- تحلیلي دے.

د معیاري یا ادبي ژبې او لهجې پېژندنه: مخکې تردې چې په اصلي موضوع باندې پیل وکړو، بې ځایه به نۀ وي، چې د معیاري ژبې او لهجې په اړه یو څۀ توضیحات وړاندې وکړو.

د لهجې په مقابل کښې ادبي یا معیاري ژبه او د ادبي یا معیاري ژبې په مقابل کښې لهجه واقع ده او دا دواړه (لهجه او معیاري ژبه) خپلې ځانګړتیاوې، نورمونه او مشخصات لري. که څۀ هم لهجه او معیاري ژبه پخپلو کښې ټینګې او نۀ شلېدونکې اړیکې لري، خو له یو څۀ توپیرونو سره. لومړے په ادبي یا معیاري ژبه، بیا به په لهجه او بیا به د دوي پر توپیرونو بحث کوو او وروسته خپلې اصلي موضوع ته راګرځو.

معیاري ژبه: هغه منل شوې ژبه ده چې دیو ژبني قلمرو په هره جغرافیائي سیمه کښې دپوهېدلو وړ وي. معیاري ژبه د ادبیاتو او میډیا ژبه وي او دا د یوې ژبې هغه ځانګړې نوع ده چې بشپړ قانوني یا یو څۀ قانوني دریځ ورکړ شوے وي. وئیل کېږي، چې دا د یوې ژبې صحیح ترینه لهجه (Dialect)ده. دژبې دغه بڼه په ځانګړې توګه هغو زده کوونکو ته ورزده کول کېږي چې غواړي دغه ژبه زده کړي او د همدې ژبې ټول لیکلي متون هماغه د معیار په نامه منل شوې املاء او ګرامري نورمونه پالي. (۲)

ځينو ژبپوهانو بيا معياري ژبه داسې تعريف کړې ده: معياري ژبه، چې دلوړې، ادبي اوسټنډرډ ژبې په نومونو هم يادېږي، که د يوې ژبې د ټولو لهجو له مېنځه يوه لهجه د ټولنيز، اقتصادي، کلتوري او سياسي دريځ دلوړوالي له پلوه ددغې ژبې په ښکارندوئي د ورځنۍ ليکنې داستعمال لپاره انتخاب او غوره شي، ادبي، رسمي، عمومي يا په لنډ ډول معياري او کره لهجه ګڼل کېږي او د دې پر وړاندې نورې بڼې نامعياري لهجې دي.(۳)

په ځينو معتبرو علمي آثاروکښې ادبي، لوړه اوسټنډرډ ژبه ملي ژبه هم بلل شوې ده او دا هم وئيل شوي دي چې لوړه يا معياري ژبه د ملي ژبې هغه فورم دے، چې په شفاهي اوتحريري بڼه يې پرمختګ کړے او دليکلو او وئيلو د ژبې په مېنځ کښې ئې کوم توپير نۀ وي. هغه عناصر چې د پوهانو په نظر د ډېرو ګړدودونو يا لهجو په مېنځ کښې د يوې لهجې په معياري کولو کښې نقش لري د يوه اوږده وخت په تېرېدو سره د دې وس او ظرفيت پيدا کوي چې يوې لهجې ته د نورو لهجو په نسبت داسې بڼه ورکړي چې خپله اغېزه ځرګنده کړي او نورې لهجې په خپل ځان کښې ورګډې کړي. (۴)دلته له ادبي، لوړې، سټنډرډ يا معياري ژبې څخه په مترادف ډول د ملي ژبې يادونه هم وشوه. ملي ژبه هغه ژبه ده،چې دولتي او سرکاري ملاتړ ولري او دولت ئې د خپلو رسمي چارو او مراسلاتو لپاره کاروي.

لهجه: لهجې ته په انګريزي کې(Dialect) وائي چې د يوناني له (Dialectos) کلمې څخه مشتقه ده او ډيالکټوس دخبروکولوطريقې ته وئيل کېږي. لهجه دخبرو اترو طرز يا د خبرو د افادې يو ډول دی. لهجه د يوې ژبې سيمه ييزه نوع هم بللے شو. ژبپوهان وائي کوم ګروپي بدلون چې د ژبې په وييز او غږيز سيستم او شکل کښې ليدل کېږي يا پېښېږي هغه لهجه بلل کېږي. په دې ډول کوم ځانګړي توپيرونه چې د يوې ژبې د ويونکو په وينا کښې ليدل کېږي د هغې ژبې بېلابېلې لهجې دي. په بله وينا د يوې ژبې هر ويونکے د دغې ژبې ديوې لهجې ښکارندوئي کوي او يو له بله سره د بېلابېلو بيولوژيکي، سوسيالوژيکي او جغرافيائي دريځونو په درلودلو سره د هماغې يوې ژبې په استعمال او کارونه کښې توپير لري. (۵)

لهجه د خبرو او تلفظ طرز او د يوې سيمې په خاصو طرزونو او اندازونو سره د يوې ژبې د کلمو تلفظ ته وائي. د ژبې هغې بڼې ته لهجه وئيل کېږي چې غږيز يا ګرامري توپير ولري او د دوو بېلابېلو لهجو ويونکي په اسانۍ سره مطلب ترلاسه کړے شي. يا په بله ژبه، که د يوې

ژبې دوه څانګړې بڼې، په عمومي توګه د غړونو او کلمو په برخه کښې او تر يوې اندازې د جوړښت (صرف) په برخه کښې توپير ولري، دا دوه څانګړې بڼې د يوې ژبې دوه بېلې لهجې ګڼل کېږي. ژبپوهان وائي کوم ګروپي بدلون چې د ژبې په وييز او غړيز سيستم او شکل کښې ليدل کېږي يا پېښېږي هغه لهجه بلل کېږي. دا يادونه بايد هم وکړو چې ژبه له څو ژبو څخه نۀ شي جوړېدے، بلکې له يوې ژبې څخه د پېړيو په اوږدوکښې څو ژبې جوړېدے او راوتلے شي چې په لومړي سر کښې د بېلا بېلو لهجو په بڼه او وروسته مستقلې ژبې شي. (۶)

لکه څنګه چې په سر کښې وويل شول چې معياري يا ادبي ژبه او لهجه پخپلو کښې څۀ توپيرونه لري چې دلته پرې خبرې او بحث کوو:

د معياري يا ادبي ژبې او لهجې تر مېنځ توپيرونه: د معياري او ادبي ژبې لويه څانګړنه دا ده چې يو واحد جوړښت لري، د ټولو سيمو خلقو ته مشترکه او د کارونې پراخه دائره لري. د دې پر عکس، لهجه په خپلو واقع شوو حدودو کښې د عمومي ژبې له جوړښت سره نسبتاً رنګارنګې بڼې لري. له بلې خوا لهجه د خپلو څانګړو محلي واقعيتونو له مخې، مشخص داخلي حدود لري. لهجې د ټاکلو محلي خلقو (د کلي، سيمې او ولايت) تر مېنځ اړتياوې او اړيکې ټينګوي. دا څرګنده ده چې ادبي يا معياري ژبه د وينايېزې ژبې په موقع پېدا کېږي او بڼه اختياروي، نو پر دې بنسټ ادبي يا معياري ژبه دوه بڼې لري: ليک او وينا. د ادبي ژبې دا دوه بڼې په خپل مېنځ کښې ټينګه علاقه لري او يو پر بل باندې تل د اغېزې په حال کښې وي، خو لهجه يوازې يوه بڼه لري. ادبي ژبه د دندې له پلوه کلي توپير لري، دا ژبه ډېره پراخه دائره رانغاړي او څانګړي قواعد او ضوابط لري. له دې امله ده چې ادبي يا معياري ژبه د افکارو د مبادلې په ټولو بڼو او د هغې د افادې په ټولو طرزونو کښې، پراخه کارېږي. په بنسټيزه بڼه د ادبي يا معياري ژبې څانګړنې دا دي چې دا ژبه په ټولنه کښې، د مدنيت ژبه، د علم و فن ژبه، د خلقو عامه ژبه، نشراتي او د بديعي ادبياتو ژبه ده، د دې په مقابل کښې د لهجې د کارونې دائره نهايت محدوده ده. اساساً په يو معين محل کښې په عادي محلي معاملاتو کښې د يو يا څو کليو، ډلې او سيمې د استازو ترمېنځ کارول کېږي. په ادبي ژبه

کښې ( د هغې په ليکنې او ويناييزه بڼه کښې) د ډيالوګ او مونولوګ[1] په طرز د فکر افاده کول، يو معين عادي عمل دے. خو په لهجه کښې د مونولوګ په توګه د فکر افاده کول کمتر کېږي. البته مونولوګي افاده زياتره په فولکلور(افسانو، بيتونو او سرودونو) کښې ليدل کېږي. (۷)

د کونړ د پښتنو ځينې لهجوي ځانګړنې: کله چې د پښتو ژبې د لهجو خبره کېږي، نو د دې ژبې لهجې د ټولنيزو طبقاتو پر بنياد مېنځ ته نۀ دي راغلي، بلکې په جغرافيائي او ټبرني بنسټونو ولاړې دي. (۸)

نو د پورتنيو توضېحاتو په رڼا کښې دغه ژبني توپيرونه او رنګارنګۍ دکونړ د خلو په ژبنۍ محاوره کښې هم څۀ ناڅۀ محسوسېږي او له ډېرې مودې راهسې کله چې ما دغه لهجوي ځانګړنې د کونړ د بېلابېلو سيمو د پښتنو له خولې اورېدلي ، يادداشت کړي مې دي او ليکنه مې ورباندې کړې چې دلته ئې درنو لوستونکو ته وړاندې کوم:

• د (ړ=ṛ فونيم) په (ل=l)فونيم باندې اړول: لکه د کړے kəṛay مرستيال فعل په /کلے kəlay / باندې تلفظ کول. لکه په دې مثال کښې Ahmad xpəl kār pə xpəl waxt kəlay day (دکونړ د مرکز اسدآباد د ځينو خلقو په شمول،د اسمار، شيګل، دانګام، ناړۍ، غازي آباد او پېچ درې خلق). دلته (ړ=ṛ )يو رېتروفلکس کانسونانټ او (ل=l)مايع کانسونانټ غږ دے. دا يو فونيټيکي بدلون دے چې کله (ړ) په (ل) او کله (ر) په (ل) اوړي. خصوصاً په هغو ماشومانو کښې، چې تازه ئې پښتو ژبه زده کړې وي دغه بدلون زيات ليدل کېږي لکه هغوي د ( راوړه) کلمه په /لاوله lāwla/ د (راشه) کلمه په / لاشه lāša/ د (ورور)کلمه په /لول lol / او د ( راغے) کلمه په /لاغے lāγay / باندې تلفظ کوي. په همدې توګه درې ژبې چې د ( ړ ) غږ په خپله ژبه کې نۀ لري معمولاً(ړ) په (ل) اړوي لکه د (زړګي) د اسم تلفظ په (زلګي) باندې او داسې نور. کله کله لويان هم (ر) په (ل) اړوي لکه په دې مثالونوکې : دربار/دلبار/ ، دارچيني/دال چيني/ ،

---

[1]- مونولوګ: په سينما او تياتر کښې پرته له مخاطب څخه د يو تن انفرادي خبرې چې موخه ورڅخه په صحنه کښې د هيجان رامنځ ته کول وي. په مونولوګ کښې، حرکت کم کارول کېږي او فقط د مختلفو حالتونو په صورت کښې ايجادېږي. (۹)

قراري/قلاري/ ، مرغلره /ملغلله/ ، اريکېن/اليکېن/ او کله هم د دې پرعکس لکه د ( ولور) تلفظ په / ورور warwar/، د ملګري په /مرګري margərī/ او /مرګړي margəṛī/ باندې.

• اوږده (ې=e) په فتحه باندې تلفظ کول لکه:(چېرې) په / چرې čare/ ، (چېرته) په / چرته čarta /(د کونړ د مرکز اسدآباد د ځينو خلقو په شمول، د اسمار، شيګل، دانګام، ناړې، غازي آباد او د پېچ درې خلق. له ګل شيرين،عبدالقدوس او يوسف خان سره مرکه) او (څېړې) يعني د څېړې ونه په /څړې caṛəy/ (د خاص کونړ د شالې، ولې، سرکي او داسې نور مومندو ته څېرمه پراتۀ خلق. له محمدسيد سره مرکه).

• د (ل=l) حذفول لکه د (ختل) له مصدرڅخه د فاعلي صفت(ختلے xatəlay)په/ ختے xətay/ تلفظ کول. لکه په دې مثال کښې: Ahmad wəne ta xətay day (د سرکاڼو ولسوالۍ ځينې خلق، د اسمار، شيګل، دانګام، ناړې، غازي آباد او پېچ درې خلق. له ګل شيرين،عبدالقدوس او يوسف خان سره مرکه).

• د /ل=l/ اړول په /د=d/ باندې لکه: (لرې شه! ləre ša) په (درې شه! dəre ša) باندې تلفظ کوي. (دکونړ د مرکز اسدآباد د ځينوخلقو په شمول، د اسمار، شيګل، دانګام، ناړې او غازي آباد خلق. له حميدالله، ګل شيرين،عبدالقدوس او يوسف خان سره مرکه). د پښتو (لرې) د دري ژبې د (دور) په معنا دے او د لويديځو آرياني ژبو د ځينو کلمو د سر (د) په ختيځو آرياني ژبو کښې کله په (ل) اوړي لکه: د دري ژبې د (دور)، (دختر)، (درو)، (دست)، (داس)، (دم)، (دنبه)، (دود) او... کلمې د پښتو له (لرې)، (لور)، (لو)، (لاس)، (لور)، (لکۍ)، (لم) او (لوګي) د کلمو معادلې او هم معنا دي چې په دې توګه ويلے شو کېدے شي دغه پر /د=d/باندې د /ل=l/ اوښتل به د لويديځو آرياني ژبو د فونيميکي خصوصياتو اغېزه وي.

• د (ښ=ş) غږ په (ك=k) اړول لکه: د (ښنل، ښنم، ښنې، ښني، ښنو)کلمې په/ ځکل ckəl/ ، /ځکم ckəm/ ، /ځکې cke/ ، /ځکي ckī/ او / ځکو ckū/باندې تلفظ کول.

• د (ت= t ) غږ په (ځ=c) غږ اړول لکه: د(تښتېدل) لازمي مصدر په/ځښتېدل cəştedəl/ او همدارنګه (تېښته)په /ځېښته ceşta/ ، (تښتي) په/ځښتي cəştī/ او (وتښتېد)په/وځښتېد

wəcəşted تلفظ کول. (د اسمار، شیګل، دانګام، ناړۍ، غازي آباد او پېچ درې خلق. له ګل- شيرين، عبدالقدوس او يوسف خان سره مرکه).

• د ځينو فونيمونو تقديم او تاخير يا وړاندې وروسته کول لکه د (الوتل) کلمه په /اولتل awlatəl / (د شيګل خلق)، (اولاد) په /الواد alwād / ، د ودرېدل مصدر په /وردېدل wərdedəl/ او د ودرېږه! امر فعل په / وردېږه wərdeža/ (د کونړ تقريباً د ټولو سيمو ځينې ځينې خلق)، (رخصت) په /رصخت rusxat / (مِزاج) په /مجاز mıjaz/ ( د خاص کونړ خلق). (ښېپې) په /خپې xpe/ (دکونړ تقريباً ټول خلق) او (لوېشت)په / ولېشت wlešt / (د کونړ د ځينو سيمو ځينې خلق)تلفظ کول. دلته که څۀ هم د لوېشت کلمه معياري برېښي او په دري کښېئې معادل (بلست) او په اوستا کښې ئې (vitasti) دے (۱۰)، خو زما په اند د( ولېشت) تلفظ به ئې له قاعدې سره سم وي، ځکه په لوېديځو آرياني ژبو په ځانګړې توګه په دري کښې ځينې کلمې، چې په (ب=b) پېل کېږي په پښتو ښ کښې چې دا يوه ختيځه آرياني ژبه ده په (و=w) اوړي لکه:

| | |
|---|---|
| دري | پښتو |
| بيست | ويشت(له۲۱تر۲۹اعدادو) |
| بردن | وړل |
| برادر | ورور |
| بره | ورى |
| برف | واوره |
| بود | ؤ |
| بند | وند (د وندني په کلمه کښې) |
| بز | وزه يا وز |
| بان (د باغوان په کلمه کښې) | وان (د باغوان په کلمه کښې) |
| برنج | وريجې |
| بيم | وېره |
| بار | وار |

بافتن ودل

باز واز

● د ځینو فونیمونو غورځول لکه: د (ښکاري)کلمه په/کاري kārī/ ، (ښکاره) په /کاره kāra/ (د نرنګ خلق او د خاص کونړ د حکیم آباد او د شامکار د کلیو خلق. له محمدسید سره مرکه)، (اچول) په /اچل ačəl / ، (اچولی) په/ اچلې ačəlay ، (ارتول) یعنې ګوزارول په / ارتل artəl/ ، ارتولې په /ارتلې artəlay/ (شیګل او تر دې پورته سیمې)، (ورغلم) په /ورلم warləm/ ، (ورغلې) په /ورلې warlay / ، (ورغلل) په /ورلل warləl/، (ورسره) په /ورسه wərsa/، (څنګه) په / څنګ cəng/ او د (ترې) ادات په /تې te/ تلفظ کول (د کونړ ټول خلق).

● د ځینو فونیمونو زیاتول لکه: د (پرېښول یا پرېښودل) فعل د امر بڼه په /پرېږدوه preždawa/ (د شیګل، اسمار، دانګام او اسمار خلق)، د (پېژندل) ، (پېژني) ، (پېژنې) او (وپېژند)کلمې په /پېژاندل pežāndəl/ ، /پېژاني pežānī/ ، /پېژانې pežāne/ او /وپېژاند wəpežānd/ تلفظ کول (د پیچ درې خلق). والوت /wālūt/ په واولوت /wāwlūt/ تلفظ کول (د اسدآباد او پیچ درې خلق. له حمیدالله او عبدالقدوس سره مرکه).

● دکلمې په سر کښې د دوو پرله پسې راغلو پزیزو کانسوناټونو (ن=n+ ن=n)څخه د یوه غورځول او پرځای ئې (و=w) ورزیاتول لکه: (ننه وځه) په /ونه وځه wənawaza / اداء کول (د غازي آباد او ناړې ولسوالۍ او ځینې نور د شا و خوا خلق. له یوسف خان سره مرکه).

● ( و=w )په (څرګنده ي=ī )اړول لکه: د (کوي) مرستیال فعل په /کیي kaīī/ او د (ویښ) تلفظ په /ییښ īīṣ / باندې (دکونړ تقریباً ټول خلق).

● د (ځای)کلمه په تصغیري بڼه او هغه هم په اختصار او لنډون تلفظ کول لکه:/ځګې ĵgay / چې دلته د ځای د تصغیري بڼې (ځایګي) دکلمې بشپړ فورم مات شوی، د /آی āy / فونیمونه ئې غورځیدلي او یوازې دکلمې د سر له غږ یعني /ځ=ĵ / سره د /ګې gay/ تصغیري وروستاړی یوځای شوی دی.(دشیګل او اسمار ځینې خلق. له ګل شیرین او یوسف خان سره مرکه).

● هغه اسمونه چې په زوره کې واله (ۍ=əy)پاے ته رسېدلے وي لکه: ډوډۍ، څپلۍ، افغانۍ او داسې نور په مغیره حالت کښې ئې (ي) حذف کېږي او د ډوډو، څپلو او اوغانو په بڼه تلفظ کېږي (د کونړ د بېلابېلو سیمو ځینې خلق).

● (ك=k) په (ق=q) تلفظ کول لکه: (کم عقل) په /قمقلqamaqəl/ (کندهار) په/قندهار qandahār/ (کندز) په / قندزqunduz/ ،(کونج ) په /قونج qonj / ، (چیکړې/ چکړې) په /چقړې čaqaṛe/او داسې نور (د کونړ تقریباً ټول خلق).

●(ف=f ) په (پ=p)تلفظ کول لکه: (دفتر) په /دپترdaptar/ (هفته) په / اپته apta/ (فاکولته) په /پاکولته pākolta / (فرق) په /پرق parq / (فنر) په /پنرpanar / او داسې نور(د کونړ ځینې ځینې خلق).ځینې وختونه د دې پرعکس لکه:( پاك) په /فاكfāk/تلفظ کول.

● مجهول واو د (aw) په ترکیبي غږ اړول؛ لکه: (ایښودل ٳşodəl) په (ایښَودلٳşawdəl )، (کتاب مې په الماری کښې (کښې) ایښَودے دے. kıtāb me pə almārəy ke īşawday day. د شیګل ځینې خلق، د اسمار، دانګام، غازي آباد او ناړۍ ولسوالیو خلق. له ګل شیرین او یوسف خان سره مرکه).

● د (تلل) مصدر په /تَګل tagəl/ تلفظ کول؛ یعنې د هماغه /تګ tag/ فعل په مصدري بڼه اړول. (د پیچ درې د ګل سلک او مورچلو کلیو خلق. له عبدالقدوس سره مرکه).

● د څښل فعل په تېره زمانه کښې په مفعولي حالت کښې یعني /څښل cşəlay/ په /سکدلے skədəlay/ تلفظ کول، مثلاً:/ چاے مې سکدلے čāy me skədəlay day/ (د ولایت د مرکز اسدآباد خلق. له شفیق الله او مصطفي سره مرکه).

● سربېره پردې دکونړ پښتانهٔ ځیني خاص تکیه کلامونه او اصطلاحات هم کاروي لکه: (غولےγwalay)، (غوچې γoče)، (مریهmərya)، (لالیٓ lālī) ، (لالۍlāləy ) ، (جوjo ) ، (ګلې gale ) ، (دلې dale ) ، (دستې daste ) او داسې نور چې مثالونه ئې دا دي: غولے سوال درته کوم γwalay swāl darta kawəm (د کونړ تقریباً ټول خلق)، مریه چېرته تللے وې mərya čerta tləlay we (د بوهګل درې ساپي) لالي دلته راشه lālī dəlta rāša . لالۍ تاته وایم lāləy tā ta wāyam (د

اسدآباد ځینې خلق او له دوي څخه پورته سیمې) محمود ګلې کره تلي یا تللے وم Mahmūd gale kara tləlay ya təlay wam (ساپي اوځینې نورخلك)احمد دلې ته ووایه Ahmad dale ta wəwāya. (دخاص کونړ او څوکۍ ولسوالیو ځینې خلق او د ځینو نورو سیمو خلك). شریف دستې راغلي وو. šarīf daste rāγəlī wo

البته د یادونې وړ ده چې له دغو ژبنیو ځانګړنو څخه ځینې ئې د کونړ ولایت یوې سیمې او درې او ځینې نورې ئې بلې سیمې او درې ته منسوبې او ځانګړې دي او د دې معنا نه لري چې ټولې دې د کونړ د ټولو خلقو په ژبنۍ محاوره کښې صدق وکړي.

پایله: په هره ژبه کښې بېلابېلې لهجې موجودې دي. پښتو ژبه هم لهجې لري او د هرې سیمې د خلقو لهجه خپلې خپلې ځانګړنې لري. په دې توګه د کونړ د خلقو په لهجه کښې هم خاصې ځانګړتیاوې شته دي چې باید ثبت شي، چې دا لهجوي ځانګړنې د سیمې د اوسېدونکو په پېژندلو کښې نقش لري. د نړۍ له علمي او تخنیکي پرمختګ سره د ټولنې د چاپېریال شرائط بدلېږي، په دغو بدلونونو سره لهجې هم بدلون مومي او په خپل حال نۀ پاتې کېږي. نو په کار ده د پښتو ژبې لهجوي ځانګړنې راټولې او ثبت شي چې په راتلونکې کښې د لهجو په ډلبندۍ او همدارنګه د تاریخي ژبپوهنې او ټولنپوهنې په مطالعاتو، د فرهنګ، دودونو او د ټولنې د مختلفو طبقو په پېژندلو او داسې نورو مسائیلو او مباحثو کښې کار ترې واخیستل شي.

## حوالي


1. پښتو لهجوي قاموس، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز پښتو انستیتوت، حبیب‌الله حسیب مطبعه، کابل، ۱۳۹۵ل، ۴۰۱- ۵۱۹مخونه.
2. هوتك، محمدمعصوم. پرمعیاري ژبه د معیارپه ژبه یوه څېړنه، علامه رشاد خپرندویه ټولنه، کندهار، ۲۰۰۷م، ۴۲مخ.
3. زیار، مجاوراحمد. «پښتوګړدودونه(لهجې)»، وږمه مجله، ۴ګڼه، د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی، کابل،۱۳۵۴ ل، ۸۸- ۸۹مخونه.
4. تنیوال، مولاجان. ژبه او ټولنه، د افغانستان د علوموا کاډمي د ژبو او ادبیاتو مرکز، شعیب مطبعه، کابل، ۱۳۸۸ل، ۱۲۱- ۱۲۲مخونه.
5. شپون، وجیه الله. د لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې اړیکې، دویم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه، جلال‌آباد، ۱۳۹۵ل، ۹۰- ۹۱مخونه.
6. آریانا دایرةالمعارف، دوهمه دوره، شپږم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي د دایرةالمعارف مرکز ریاست، احمد مطبعه،کابل، ۱۳۹۶ل، ۲۵۶مخ.
7. یمین، محمدحسین. درآمدي بر لهجه شناسي در زبان فارسي دري و نمونه هایي از لهجه هاي این زبان، چاپ سوم، انتشارات سعید، کابل، ۱۳۹۶ش، ۱۰- ۱۱مخونه.
8. شپون، وجیه الله. د لرغونو ژبو سره د پښتو ژبې اړیکې، دویم چاپ، مومند خپرندویه ټولنه، جلال‌آباد، ۱۳۹۵ل، ۱۰۰مخ.
9. محمدمعین. فرهنګ فارسي معین، جلد چهارم، چاپ دوم، به اهتمام عزیزالله علي‌زاده- محمود نامني، انتشارات نامن، تهران، ۱۳۸۶ش، ۳۰۴۴مخ.
10. دارمستتر او نور. تاریخ تلفظ و صرف پشتو، جلد اول، ترجمه روان فرهادي، پوهنځی ادبیات و علوم بشري پوهنتون کابل، مطبعه وزارت تعلیم و تربیه، کابل، ۱۳۵۶ش، ۵۹مخ.

**References**

1. **Pashto lahgawi qamoos, lomray tok, da Afghanistan da olomo Academy, da zhabo aw adabiato markaz riasat, Ahmad matbaa, Kabul, 1395, P:401- 519.**
2. **Hotak,Mohammad Masoom. par miari zhaba da miar pa zhaba yawa serana, alama Reshad khparandoya tolana, Kandahar, 2007, P: 42.**
3. **Ziar, Mujawer Ahmad. "Pashto gardoduna(lahje)", wazhma mujala, 4 gana, da adabiato aw bashari ulomo pohanzay, Kabul, 1354, P: 88- 89.**
4. **Taniwal, Mawlajan. Zhaba aw tolana, da Afghanistan da olomo Academy, da zhabo aw adabiato markaz, Shoab matbaa, Kabul, 1388, P:121- 122.**
5. **Shpoon, Wajihullah. Da larghono zhabo sara da Pashto zhabe arike, dwaim chap, momand khparandoya tolana, Jalalabad, 1395, P:90- 91.**
6. **Aryana dayratolmaref, dwahama dawra, 6 tok, da Afghanistan da olomo Academy da dayratolmaref markaz riasat, Ahmad matbaa, Kabul, 1396, P: 256.**
7. **Yamin, Mohammad Hosain. Daramade bar lahja shinasi dar zaban farsi dari wa namonahay az lahjahay en zaban, chape som, entesharat saeed, Kabul, 1396, P: 10-**
8. **Shpoon, Wajihullah. Da larghono zhabo sara da Pashto zhabe arike, dwaim chap, momand khparandoya tolana, Jalalabad, 1395, P:100.**
9. **Mohammad Moin. Farhang-e farsi moin, jold-e chaharom, chap-e dom, ba ehtemam-e Azizullah Alizadah & Mahmood nameni, entesharat namen, Tehran, 1386, P: 3044.**
10. **Darmesteter aw nor. Tarikh-e talafoz wa sarf- e Pashto, jold-e awal, motarjem: Rawan farhadi, pohanzay-e adabyat wa uloom-e bashari pohanton-e Kabul, latbaa-e wezarat-e talim wa tarbia, Kabul, 1356, P: 59.**